# لماذا هذه هي أيام المهدي؟

## ولې دا د امام مهدي د ظهور ورځې دي؟



ژباړونکی: أبوعمر محمد

# لماذا هذه هي أيام المهدي؟

## [ ولې دا د امام مهدي د ظهور ورځې دي؟ ]

أبوعمرمحمد

١٤٤١هـ

# رجاء

**الحمدلله والصلاة والسلام على رسول الله و على آله وصحبه و من والاه**

ثمّ أما بعد: دا چې مهدي –عليه السلام- راتلونکی دی او دهغې په راتګ سره به مسلمانانو هغه تللی عزت او مجد بېرته راګرځي، يوه اتفاقي مسئله ده چې ټول مسلمانان پرې موافق دي، خو دلته موږ دا موضوع د بحث لاندې نيولې چې؛ د مهدي –عليه السلام- ظهور به کله وي؟ آيا اوس هغه وخت دی چې دې ظهور وکړي او که نه؟ که دی نو د دې دپاره دلائل څه دي؟

دا او داسې نورو څه پوښتنو ته د ځواب موندلو دپاره دا مختصره رساله د (انصارالمهدي) د تحريک غړو له خوا ترتيب شوې، دا تحريک چې ګڼ کلونه وړاندې په يمن کې يې په فعاليت پيل کړی د مهدي د ظهور انتظار او هغې ته اعداد(تياری) کوي، او په دې لاره کې يې ډير د پام وړ ګامونه پورته کړي چې کولی شو د ټولنيزو رسنيو لخوا هغې ته لاس رسی ومومو، خو دلته به په اختصار سره او د اشارې په حد کې پورته مسائل وڅېړل شي، دا به صرف د کار د پيل حيثيت ولري هغه چاته چې له دې مسئلې سره نوی مخامخ کيږي او دې کس ته لازمه ده ترڅو په مفصله توګه په دې موضوع کې تحقيق وکړي او ځان پرې پوه کړي.

تر خپل وسه پورې مو کوښښ کړی تر څو ترجمه کې آسانه او ساده الفاظ وکاروو خو بيا هم د اغلاق آثار پکې ليدل کيږي چې هغه به زموږ د انساني ضعف سبب وي، د امکان تر حده مو عبارت ترجمه کړی او کوم ځای کې چې د عين عبارت د ترجمې امکان نه وو د ژبې په قالب کې د راوستو د پاره مو يوڅه اندازه تصرفات کړي چې البته مفهوم مو همغه رسولی، بعضې کلمات چې بيان يې سخت وو او موضوع پورې يې مستقيم تړاو نه درلود دهغې ترجمه مو په يوساده عبارت سره کړې تر څو رساله راڅخه اوږده نشي.

د قوس -()- په مينځ کې مو د ضرورت په پام کې نيولو سره د الفاظو مترادفات، معترضه جملې او د بعضې مفاهيمو وضاحت ته ځای ورکړی، د احاديثو ترجمې ظاهري الفاظو ته په کتلو سره شوې او د کومې منبع څخه پکې کار ندی اخيستل شوی نو که کوم کمی زياتی پکې ليدل کيږي هيله ده هغه زموږ عجز وګڼی.

زموږ هدف ددې رسالې څخه صرف د دې موضوع رسول دي تر څو د لوستونکي سره په دې اړه سوچ پيدا شي او ورته متوجه شي، کوم واقعات چې داحاديثو څخه د اوسنی زمانې سره تطبيق شوي، اکثر قياسي او منطقي بنه لري او د تعديل او صرف نظر وړ دي، نو که همداسې وشول څنګه چې موږ ترې برداشت وکړ دا به د الله –سبحانه وتعالی- فضل وي، او که داسې ونه شول نو دا به زموږ انساني عجز او ناتواني وي.

## إن نظن إلا ظنا و ما نحن بمستيقنين

إمام بخاري - رحمه الله- او نورو محدثينو روايت کړی چې نبي اکرم - صلی الله علیه وسلم- فرمايلي:

**بعثت أنا والساعة كهاتين، و أشار بأصبعه السبابه والوسطى.**

ترجمه: زما مبعوث کېدل او قيامت داسې دي لکه دا دوه، او په خپلو منځنۍ او مسواکۍ ګوتو سره يې اشاره وکړه.

حكيم الترمذي په خپل كتاب نوادر الاصول کې ليکي: حدثنا صالح بن محمد بن أبي محمد، حدثنا يعلى بن هلال عن ليث، عن مجاهد، عن أبي هريرة –رضي الله عنه- قال: **قال رسول الله -صلى الله عليه وسلم-: إنما الشفاعة يوم القيامة لمن عمل الكبائر من أمتي، ثم ماتوا عليها، وهم في الباب الأول من جهنم، لا تسود وجوههم ولا تزرق عيونهم، ولا يغلون بالأغلال، ولا يقرنون مع الشياطين، ولا يضربون بالمقامع، ولا يطرحون في الأدراك، منهم من يمكث فيها ساعة ثم يخرج، ومنهم من يمكث فيه يوما ثم يخرج، و منهم من يمكث فيها شهرا ثم يخرج، ومنهم من يمكث فيها سنة ثم يخرج، و أطولهم مكثا فيها مثل الدنيا منذ يوم خلقت إلى يوم أفنيت، وذلك سبعة آلاف سنة...** وذكر بقية الحديث

ترجمه: أبو هريره -رضي الله عنه- فرمايی چې رسول الله –صلی الله عليه وسلم- داسې وفرمايل: بېشکه چې زما شفاعت د قيامت په ورځ زما هغه امتيانو ته دی چې کبيره ګناهونه يې کړي او په همدې حال وفات شوي، دوئ د جهنم په اوله دروازه کې دي، نه يې مخونه توريږي او نه يې هم سترګې(د اور په سبب) شني کيږي، او نه په زنجيرونو سره وهل کيږي، نه شيطانانو سره نږدې پريښودل کيږي، نه په وسپنيزو ګرزونو(ډنډو) وهل کيږي، نه په کندو(ژورو ځايونو) کې غورځول کيږي، د دوئ ځخه به ځه (خلک) داسې وي چې يو ساعت به جهنم کې پاته کيږي او بيا راوځي، ځه به داسې وي چې يوه ورځ پاته کيږي بيا راوځي، ځه يکې يو مياشت پاته کيږي بيا راوځي، ځه پکې يو کال پاته کېږي بيا راوځي، او ځه پکې تر ټولو اوږدې مودې ته پکې پاته کېږي(چې د هغې اندازه دومره ده) لکه د کومې ورځې څخه چې دنيا پيدا شوې او ترڅو چې فناه کيږي، او دا -۷۰۰۰- کاله دي... او د حديث پاته برخه يې ذکر کړه.(الحديث)

او ابن عساكر فرمايی: أخبرنا أبو سعيد أحمد بن محمد البغدادي، أخبرنا أبو سهل حميد بن أحمد بن عمر الصيرفي، أخبرنا أبو عمرو عبدالله بن محمد بن عبدالوهاب، أخبرنا أبو جعفر محمد بن شاذان بن سعدوية، أخبرنا أبو علي الحسن بن داود البلخي، حدثنا شقيق بن إبراهيم الزاهد، حدثنا أبو هاشم الأيلي عن

أنس بن مالك –رضي الله عنه- قال: **قال رسول الله -صلى الله عليه وسلم-: من قضى حاجة المسلم في الله، كتب الله له عمر الدنيا سبعة آلاف سنة، صيام نهاره و قيام ليله.**

ترجمه: نبي اكرم - صلى الله عليه وسلم - فرمايلي: چا چې ديو مسلمان حاجت د الله –سبحانه و تعالى- دپاره پوره كړ، الله –سبحانه و تعالى- به ورته د دنيا د عمر په اندازه د ورځې روژې او د شپې قيام (لمونځ او نور عبادات) وليكي، چې -۷۰۰۰- كاله دی(د دنيا عمر).

او ابن عدي –رحمه الله- فرمايی: حدثنا أبو إسحاق إبراهيم بن عبدالله البلخي، حدثنا أحمد بن محمد، حدثنا حمزة بن داود، حدثنا عمر بن يحيى، حدثنا العلاء بن زيد عن أنس -رضي الله عنه- قال: قال رسول الله – صلى الله عليه وسلم-:**"عمر الدنيا سبعة أيام من أيام الأخرة"** قال الله تعالى:**"و إنّ يوما عند ربك كألف سنة مما تعدون"**الآية

ترجمه: رسول الله - صلى الله عليه وسلم - فرمايلي: د دنيا عمر اوه(۷) ورځې دی د آخرت د ورځو څخه.(الحديث) او الله -سبحانه و تعالى- فرمايی:**و إنّ يوما عند ربک كألف سنة مما تعدون**.[1]

او طبراني –رحمه الله- په الكبير كې راوړي چې: ... عن الضحاك بن زمل الجهني قال: رأيت رؤيا فقصصتها على رسول الله –صلى الله عليه وسلم- فذكر الحديث وفيه: إذا أنا بك يا رسول الله على منبر فيه سبع درجات و أنت في أعلاها درجة، فقال –صلى الله عليه وسلم-:**"أما المنبر الذي رأيت فيه سبع درجات، و أنا في أعلاها درجة فالدنيا سبعة آلاف سنة، وأنا في آخرها ألفا"**.

ترجمه: له ضحاک بن زمل الجهني څخه روايت دی چې فرمايی: ما يو خوب وليد او هغه مې رسول الله –صلى الله عليه وسلم - ته بيان كړ، نو يوه خبره يې وكړه(ياده كړه) چې هغې كې دا ډول راغلي وو: لكه زه چې درسره يم(درته گورم، يا ستا په ځای يم) ای د الله رسوله په داسې منبر ولاړ يې چې -۷- درجې لري او ته يې په اومه(آخري) درجه ولاړ يې، نو ويې فرمايل(رسول الله –صلى الله عليه وسلم-): هغه منبر چې -۷- درجې يې درلودلې او زه يې په اوومه(آخري) درجه كې ولاړ وم، نو هغه دنيا ده چې -۷۰۰۰- كاله عمر لري او زه يې په آخري زر كلونو كې يم.[2]

---

۱- [سورة الحج ۴۷]

۲- [دا حديث بيهقي په دلايلو كې تخريج كړی، او سهيلي په روض الانف كې راوړی او ويلي يې دي: دا حديث اگر كه د سند په اعتبار ضعيف دی خو په موقوف ډول له ابن عباس - ر- څخه روايت شوی د صحيح لارو(طريقو) څخه چې هغه ويلي: دنيا -۷۰۰۰- ورځې ده، هره ورځ يې زر

نو دا آثار پر دې باندې دلالت کوي چې د دنيا عمر -۷۰۰۰- کاله دی، او دا چې د الله رسول – صلی الله عليه وسلم - په آخري زر کلونو کې مبعوث شوی دی، او بل اړخ ته د رسول الله -صلی الله عليه وسلم- داسې کلکې او څرګندې ویناوې دي چې پورته ذکر شوي آثار تأییدوي او تینګار پرې کوي، او دا دلایل د دې مسئلې دپاره ډېر ناآشنا حجت او د رسول الله -صلی الله عليه وسلم- د نبوت نښې دي، ځکه د صحابه کرامو –رضي الله عنه- سره د رياضياتو علم نه وو بلکې هغوئ داسې ول لکه څنګه چې الله –سبحانه و تعالی- د هغوئ باره کې فرمايلي -أميين- (نالوستي).

هوکې د بشريت لاربنود خپلو ملګرو لره دوه داسې بنسټونه(اساس، دلته ترې مراد په ګوتو سره اشاره کول دي) واضح کړې چې د دواړو د پیلېدو ځای یو دی او یو یې تر بل ۷/۶ په نسبت سره اوږد دی.[3]

رسول الله - صلی الله عليه وسلم- فرمايي: **"بعثت أنا والساعة كهاتين"** وأشار بأصبعه السبابة والوسطى.

ترجمه: زما مبعوث کېدل او قيامت داسې دي لکه دا دوه (او په خپلو منځنۍ او مسواکۍ ګوتو سره یې اشاره وکړه).

آيا مسواکۍ ګوته د منځنۍ په پرتله ۷/۶ په نسبت لنډه نده؟

ښېښکه چې موږ ته یې -۱۴۰۰- کاله مخکې خبر راکړ او د دې مسئلې حاجت ته یې اشاره وکړه، او ددې امت خلکو(علماؤ) هغه رانقل کړي لکه څنګه چې د بشريت ستر ښوونکي (لاربنود) څخه موږ ته رارسېدلي، ليکن د هغه یاران پوه نشول مګر په دې چې د رسول الله -صلی الله عليه وسلم- په راتګ سره قيامت هم رانژدې شو ځکه د احصائيې او رياضياتو علم ورسره نه وو.

ګوندې الله -سبحانه و تعالی- په دې صحيح خبرې سره هغه ضعيفه خبره تأييدوله چې په آخره زمانه کې پرې دلالت کوي، داسې حال کې چې؛ اميران ظالمان دي، وزيران فاسقان دي، قضات خائنان دي، فقهاء (د دين پوهان) دروغجنان دي او همدوئ دي چې دا حقيقت پټوي.

په دې حديث کې څو معناوې مراد دي، له هغوئ څخه څه دا دي:

---

کاله ده، او رسول الله - ص- یې په آخر کې مبعوث شوی. او ابو جعفر الطبري دا اصل صحيح ګڼلی او ددې متن یې په نورو آثارو سره کلک کړی] باقي د دوهمې شميرې

۳- [فرضا منځنی ګوته په -۷- مساوي برخو ويشو بيا مسواکۍ ګوته ورسره پرتله کوو نو دا به ومومو چې منځنی ګوته د مسواکۍ ګوتې څخه د همغې اوو مساوي برخو یوه برخه کوچنی ده]

I. دا چې قیامت رانژدې دی

II. د دنیا عمر دومره باقي دی لکه څومره چې مسواکۍ ګوته له منځنۍ څخه شاته ده، چې اوومه حصه ده، او همداشان د رسول الله -صلی الله علیه وسلم- بعثت او د دنیا عمر له یوبل سره همدومره نږدېوالی لري.

نن موږ په کال -۱۴۴۱هـ- کې یو او د رسول الله —صلی الله علیه وسلم - د بعثت څخه -۱۴۵۳- کاله او شپږ میاشتې تیرې شوې دي(د بعثت له اول څخه) نو آیا الله -سبحانه و تعالی- دا امت -۴۵۳- کاله ځنډولی دی؟

ځواب: هو، رسول الله -صلی الله علیه وسلم- فرمایلي: **"إني لأرجو، ألا تعجز أمتي عند ربها أن يؤخرهم نصف يوم. قيل لسعد: وكم نصف ذلك اليوم؟ قال: خمسمائة سنة".**[4]

ترجمه: زه دا امید لرم چې زما امت به د نیمې ورځ په اندازه ځنډېدو څخه د الله -سبحانه و تعالی- په نزد عاجزه نشي، سعد(بن أبي وقاص) ته وویل شو: نیمه ورځ څومره ده؟ هغه وویل: -۵۰۰- کاله.

نو په دې حدیث سره موږ ته څرګندیږي چې د دنیا عمر له -۱۰۰۰- کلونو څخه اوړي اودا زیادت به له -۵۰۰- کلونو څخه دیر نه وي، په همدې سبب امام سیوطي —رحمه الله- په خپلې رسالې (الکشف عن مجاوزة هذه الامة الاف) کې یاده کړې چې وایی: **والذي دلت عليه الآثار أنّ عمر هذه الأمة يزيد على الالف سنة ولا تتجاوز الزيادة الخمس مائة سنة.**

ترجمه: او هغه څه چې آثار پرې دلالت کوي دا دي چې د دې امت عمر له -۱۰۰۰- کلونو څخه اوړي(زیاتیږي) او دازیادت به له -۵۰۰- کلونو څخه ډیر نه وي.

او داسې ښکاري چې آن د کمې پوهې والا خلک هم په دې پوهیږي چې موږ د دې امت د پای په باره کې غږیږو او دا هغه وخت دی چې یو ښایسته باد(شمال، هوا) به راشي او د هر هغه چا روح به ورسره قبض شي چې په زړه کې یې د زرې په اندازه ایمان وي، زموږ خبره د قیامت د راتلو په اړه نده چې د هغې په راتګ پوښتېدونکی له پوښتونکي څخه زیات نه پوهیږي(مالمسؤل بأعلم بها من السائل).

---

۴- [په صحیح ابو داود کې امام آلباني هم روایت راوړی او سعد بن ابي وقاص یې راوي دی]

ليکن کله چې دغه حديث (د مسواکی او منځنی ګوتې والا) ذکر کيږي چې يو تقريبي بيان دی او دا احاديث د دې ځرګندونه کوي چې رسول الله -صلى الله عليه وسلم- په آخري زر کلونو کې مبعوث شوی دی نو په دې پوهيږو چې ددې امت پای به د دنيا به پای(آخر) سره وي، بغير د کوم معين وخت له ټاکلو څخه.

نو دا ډول حساب که وکړو چې؛ د امت عمر -١٥٠٠- کاله دی او -١۴۵٣- کاله تېر شوي دي نو موږ سره تقريبا -۴٧- کاله وخت باقي پاته دی، او دا مسئله د دې خبرې ځرګندونکې (ښکارونکې) ده چې موږ په آخر الزمان کې ژوند کوو.

هوکې موږ په داسې يو وخت کې ژوند کوو چې: کار د هغه اهل ته نه سپارل کيږي، سلام په خاصو خلکو اچول کيږي، جوماتونه او د قرآن مصاحف ډير ښايسته شوي(ظاهرا)، قلم ظاهر شوی، بازارونه نژدې شوي، تجارت خور(نشر) شوی تر دې چې ښځه له خپل خاوند سره شريکه ده (تجارت کې)، مال فريمانه شوی، خپلوياني پريکړای شوي، بربنډې او بد لباسه ښځې راښکاره شوي، وينزې خپله باداره زيږولې، او داسې خلک راپيدا شوي چې په درو باندې خلک وهي، پېښې لوڅې خلک او بزځروونکي(ګډوبزو والا) په بناء ګانو او آباديانو کې ديوبل سره مقابلې کوي، تهمتونه، زلزلې او فتنې ډيرې شوي، ټول ملکونه(د کفارو) په موږ داسې راټول شوي لکه خوړونکي چې د خوراک په لوښي راټوليږي، او کمعقله خلک خبرې کوي(دعوامو په امورو کې او دحکم په مسائلو کې)، فتنې ټولو کورونو ته د ننه شوي، د رسول الله -صلى الله عليه وسلم- اولاد شړل شوي تر دې چې اشراف(عزتمندان او مشران) په دې نه پوهيږي هغوئ اشراف دي، مکه د مال او نفقې څخه ډکه شوې، د رسول الله -صلى الله عليه وسلم- مسجد لکه سپين قصر داسې جوړ شوی، د مشرق څخه تورې جنډې ښکاره شوي، ځمکه د ظلم او ځور څخه ډکه شوې... [5]

نو هغه څوک چې اوس هم شک لري چې موږ آخرالزمان کې يو د عقل څخه بې برخې دی.

اوس سوال دا دی: آيا داسې صحيح احاديث هم راغلي چې د امت (دژوند) مرحلې د هغې د عمر په اوږدو کې ذکر کړي او د هغې صفات او مرحلې يې بيان کړې وي؟ ښه...

امام احمد –رحمه الله- د حذيفة بن اليمان – رضي الله عنه- څخه روايت کوي چې رسول الله -صلى الله عليه وسلم- فرمايلي: **"تكون النبوة فيكم ماشاءالله أن تكون، ثم يرفعها إذا شاء أن يرفعها، ثم**

---

۵- [مراد دا چې د قيامت واړه علامات ټول ښکاره شوي]

**تکون خلافة على منهاج النبوة، فتكون ماشاءالله أن تكون، ثم يرفعها إذا شاء الله أن يرفعها، ثم تكون ملكا عاضا، فيكون ماشاءالله أن يكون، ثم يرفعه إذا شاء الله أن يرفعه، ثم تكون ملكا جبريا، فتكون ماشاءالله أن تكون، ثم يرفعها إذا شاءالله أن يرفعها، ثم تكون خلافة على منهاج النبوة"** ثم سكت

ترجمه: نبوت(پيغمبري) به په تاسو کې وي تر هغې چې الله -سبحانه و تعالى- غوښتي وي، بيا به يې اوچت کړي کله چې وغواړي، بيا به (په تاسو کې) د نبوت پر منهج خلافت وي ترڅو چې الله -سبحانه و تعالى- غوښتي وي، او بيا به يې اوچت کړي کله چې وغواړي، بيا به ملوکيت(پادشاهت، سلطنت، ميراثي حکومت) وي تر څو چې الله -سبحانه و تعالى- غوښتي وي، بيا به يې اوچت کړي کله چې وغواړي، بيا به جبري حکومت وي تر څو چې الله -سبحانه و تعالى- وغواړي، او چې کله يې وغواړي نو اوچت به يې کړي، بيا به خلافت وي پر منهج د نبوت، او بيا رسول الله -صلى الله عليه وسلم- غلی شو(سکوت يې وکړ).[6]

او د ابن عباس –رضي الله عنه- څخه روايت دی چې رسول الله -صلى الله عليه وسلم- فرمايلي:**"١- أول هذا الأمر نبوة و رحمة ٢- ثم تكون خلافة و رحمة ٣- ثم تكون ملكا و رحمة(إمارة و رحمة) ۴- ثم جبرية يتكادمون عليها تكادم الحمير. فعليكم بالجهاد و إن افضل جهادكم الرباط وإن أفضل رباطكم عسقلان".**

ترجمه: د دې امر اول د رحمت څخه ډک نبوت دی، بيا به د رحمت والا خلافت وي، بيا د رحمت والا ملوکيت(سلطنت) وي، بيا به جبري حکومت وي چې په هغې(قدرت، څوکۍ) به داسې خولې(منګولې) لګوي لکه د خرو(چارپايانو) په څېر(په شان)، نو دې وخت کې په تاسو جهاد لازم دی او بيشکه چې ستاسو بهترين جهاد رباط(سنګر، د اسپونو مجموعه) دی او بيشکه ستاسو د پاره تر ټولو غوره(ښه) رباط عسقلان دی.[7]

څوک چې دا ګمان لري چې موږ نن هم د خلافت راشده يا د عباسيانو، امويانو يا عثمانيانو د ملوکيت په دور کې يو چې په هغې کې رحمت دی لکه څنګه چې رسول الله -صلى الله عليه وسلم- موږ ته بيان کړی، نو موږ هغه ته نصيحت کوو چې خپل دا خوب او خيال دې په ښايسته او آرامه خوبځای کې پرېږدي(ويده دې وي د غفلت په خوب) لرې د هغه چا د لارې څخه د اسلام د دين نصرت او د خلافت د اقامت اراده لري.

---

۶- [دا حديث په سلسلة الصحيحة کې آلباني صحيح کړی]
۷- [امام آلباني په سلسلة الصحيحة کې راوړی]

ځکه نبي کريم -صلى الله عليه وسلم- صراحت راکړ چې په دې جبري مرحله کې به خلک په قدرت(ځوکۍ) او دنيايي مطلبونو داسې خولې لګوي لکه د خرو(چارپايانو) په شان، نو د هغه -صلى الله عليه وسلم- لارښوونه(توجيه) څه وه؟ (په تاسو جهاد لازم دى...)، دا توجيه په دريو درجو کې ده:

۱- د طلب جهاد ۲- د دفاع جهاد ۳- په غزه(عسقلان) کې جهاد

نو عقلمند انسان په دې شک نکوي چې په حديث کې ياده شوې د جبري حکم دوره همدا ده.

حقيقي سوال دا دى: چې آيا موږ د جبري حکم په اوله برخه کې يو، په منځنۍ برخه کې يو، او که په آخرنۍ برخه کې يو؟ آيا د رسول الله -صلى الله عليه وسلم- څخه داسې روايت او خبر راغلى چې د دې مرحلې وخت موږ ته وټاکي(معين کړي)؟

يو له هغو مسئلو چې عقلمند انسان يې په منلو کې شک نکوي هغه دا مسئله ده چې دا هغه مرحله ده چې ټول د ايمان والا انسانان (ولوکه ضعيف ايمان والا وي) د دې آرمان کوي چې خلافت راشده دې بيرته راوګرځي او دا ځکه چې په دې مرحله کې شيطان بيلا بيلې لارې پکې حاکمې دي، دهغې علوم د هغې ترلارې، د هغې مسلکونه په خلاف د تيرو مرحلو چې نبي اکرم -صلى الله عليه وسلم- په رحمت باندې توصيف کړې وې، او موږ ته يې دا مرحله څرګنده نکړه مګر د هغې د بدۍ په بيانولو سره(د خروپه شان به خولې لړوي).

په تيرو زمانو کې رحمت غالب وو نو ځکه د خلافت غوښتنه د عام امت نه وه، ليکن په دې مرحله کې داسې رحمت نشته چې عامو مسلمانانو ته دې ورسيږي بغير د خاصو څخه، نو د مسلمانانو ادنى طبقه(ټيټه طبقه په اعتبار د مال او قدرت) دا آرمان لري چې هغه رحمت دې راوګرځي چې په خلافت راشده او ملوکيت نظام کې و.

آيا د رسول الله -صلى الله عليه وسلم- څخه داسې روايت راغلى چې په هغې کې د آخرې زمانې د مسلمانانو د زړه حال بيان شوى وي؟

عن عبادة بن صامت –رضي الله عنه- قال: بينما نحن مع رسول الله - صلى الله عليه وسلم- وقوف إذا أقبل رجل فقال: **يا رسول الله ما مدة رجاء أمتك؟** قال: فسكت عنه الرسول - صلى الله عليه وسلم- حتى سأله ثلاث مرات ثم ولى الرجل فقال له رسول الله –صلى الله عليه وسلم- **:"لقد سألتني عن شيء ما**

**سألني عنه أحد من امتي رجاء أمتي مائة سنة".** قال: فقال: **يارسول الله -صلى الله عليه وسلم- فهل لتلك من إمارة أو آية أو علامة؟** قال: **"نعم القذف والخسف والرجف وإرسال الشياطين الملجمة عن الناس".**

ترجمه: له عباده بن صامت -رضي الله عنه- څخه داسي روايت دى: داسي حال كي چي موږ د رسول الله -صلى الله عليه وسلم- سره ولاړ و، نو يو سړى مخي ته راغى او ويې ويل: ستا د امت د طمعې(اميد) موده څومره ده؟ عباده وايي: نو رسول الله -صلى الله عليه وسلم- غلى پاته شو، تر دې چي درې واره يې وپوښتل، بيا سړى روان شو، نو رسول الله -صلى الله عليه وسلم- ورته وفرمايل: د داسي يوې مسئلي پوښتنه دې راڅخه وكړه چي زما هيڅ امتي زما څخه هغې باره كي سوال ندى كړى، زما د امت د اميد موده -١٠٠- كاله ده. راوي وايي هغه سړي داسي وويل: اى د الله رسوله -صلى الله عليه وسلم- آيا دا موده كومه نښه لري؟ ويې فرمايل: هو، بې ځايه تهمت(چې عام شي)، په ځمكه كې ننوتل(خسف)، زلزلي، او كله چي انسانانو ته تړل شوي شيطانان ولېږل شي.[8]

نو د دې مرحلي عمر پوره سل كاله -١٠٠- دى، نو دا هغه پيړۍ(قرن) دى چي په حديث كي ياده شوې او له نجد څخه به پيل كيږي؛ عن ابن عمر –رضي الله عنهما- أن النبي –صلى الله عليه وسلم- قال:**"اللهم بارك لنا في شامنا و يمننا. قالوا: وفي نجدنا؟ قال: اللهم بارك لنا في شامنا و يمننا. قالول: وفي نجدنا؟ قال: هناك الزلازل والفتن، وبها يطلع قرن الشيطان".**

ترجمه: له ابن عمر څخه روايت دى چي نبى اكرم -صلى الله عليه وسلم- وفرمايل: يا الله**!** موږ ته په شام كي بركت واچوې او په يمن كې، صحابه كرامو –رضي الله عنهم- وويل: اوپه نجد كي مو(بركت واچوې)؟ بيا رسول الله -صلى الله عليه وسلم- وفرمايل: يا الله زموږ په شام او په يمن كې بركت واچوه، هغوئ(اصحاب كرام) بيا وويل: او په نجد كي(بركت واچوه)؟ رسول الله -صلى الله عليه وسلم- وفرمايل: هلته زلزلي او فتني دي(وي به) او هلته به د شيطان قرن(پيړۍ) راخيژي. [9]

---

٨- [حاكم په خپل مستدرک كي نقل كړى]

٩- [متفق عليه او لفظ د بخاري دى؛ بخاري -١٠٣٧- مسلم -٢٩٠٥-]

په دې حديث کې د شيطان د سليزې د پيل ځای په ګوته شوی(معين شوی)، چې موږ ته يې خبر راکړ هغه نجد دی، يعني د دې مرحلې پيل له نجد څخه دی او د دې مرحلې تياری مخکې شوی دی د فتنة السراء.[10]

په ودريدلو(پيلېدلو) سره چې لوړی(دود، ګرد) به يې د الشريف حسين[11] له پښو څخه خيژي (يعني فتنه د به د دې سړي له خوا پيلېږي) وروسته د دې فتنې پيل د عربي لويې جګړې په نوم ونومول شوه، اودا په پټ(غير محسوسه) ډول خپره(نشر) شوه چې ټولې د ننی پراخی ښکارندويني(ظاهرې) او د خلکو ګڼي مجموعې(چې په حديث کې لفظ د رمې ورته کارول شوی) چې موږ پکې ژوند کوو يې رامنځته کړې، تر دې چې دوئ(خلک) له دې فتنو او د (سايکس بيکو)[12] له ليکو څخه په خپلو وينو ملاتړ(حمايت) کوي او د دې(فتنې) دپاره وژل کېدل د وطن له پاره د شهادت ګڼي.

د دې مرحلې په لړ(جريان) کې اميران ډېر شول او امانت پالونکي کم شول، حاکمان خائنان دي، وخت د غولونکو ګرځېدلی چې خائن پکې امانتدار او امانتدار پکې خائن ګڼل کيږي(يا هم دا چې امين پکې خيانت کوي او خائن پکې امانت ساتي)، دروغجن رښتونی(صادق) ګڼل کېږي او رښتونی انسان دروغجن ګڼل کيږي، کمعقله انسانان خبرې کوي(د عوامو او د حکم په مسائلو کې)، ديو قوم زعامت د هغوئ ذليل انسان کوي، او مشران يې فاسقان دي، او امانت يو غنيمت ګرځېدلی(په بې باکه ډول خيانت کيږي او خودل کيږي).

دا همغه مرحله ده چې؛ قاريان پکې ډېر شوي، عالمان پکې کم شوي، مفتي د سلطان(په خوښه) دی، او په دې وخت کې چې کوم فقهاء دي رسول الله -صلی الله عليه وسلم- موږ ته د دروغجنانو په صفت راپيژندلي، د منبر په سر خطيبان ډېر شول، د قرآن له مخې لوستونکي ډېر شول او (رښتيني)علماء کم شول.

دلته د قرآن د تجويد او خوش آوازئ د سياليو(مسابقو) اهتمام کيږي تر دې چې قرآن يې سندره او نغمه ګرځولې، او دهغې پوهه او په هغې کې تدبر او عمل يې له پامه غورځولی، له قرآن څخه يې صرف يو تاريخی اثر جوړ کړی پوښتنه يې صرف په (څوک غواړي مليونر شي) خپرونه کې کېږي، د قرآن څخه د هغه د رسم(تصوير) پرته څه ندي پاته،چې يا د تبرک دپاره دم پرې اچول کيږي اويا هم د

۱۰- [د دې فتنې څخه مراد د دنيا فراخېدل دي په خلکو باندې، د مال زياتوالی ډېر د راحتی اسباب...]
۱۱- [حسين بن علي الهاشمي د هاشمي عربو مشر او د مکې امير و په کال -۱۹۰۸- کې بيا يې وروسته دعثماني خلافت پر ضد د امپراتورئ او خلافت ادعا وکړه، بيا د -۱۹۱۶- څخه تر -۱۹۲۴- پورې د حجاز حاکم و]
۱۲- هغه پولې او ليکې چې د هغې په اساس ننني هيوادونه بيل شوي (سرحدات)

فرهنگي اثر په ځېر ګڼل کيږي، يا هم د فولکلوري ادبياتو په شان د تعزيې په محافلو کې(لکه فاتحه خواني) چې مړو ته وړاندې کيږي نه ژوندو ته اوړېدل کيږي، لکه د غربي کلتور په شان چې هغوئ په داسې محافلو کې کلاسيکه موسيقي او يو ډول خاص سورنی(پوکی) د جنازې او تعزيې وخت کې غږوي.

دا هغه مرحله ده چې ماشوم پکې ژر ځوانيږي، مشر پکې ژر زړيږي، زموږ نوي نسلونه د سيکولريزم تر سيوري لاندې را لوی شول، ماشومان د ساعت تيری او خوشحالی(موبايل، کمپيوټر، ټلويژن...) د اسبابو او بربنډو او بد لباسه ښځو له لوري تربيه کيږي، د ډېر لوی تعداد پيغلو تربيت د حجاب او حشمت(وقار، عفت) په کرکه کيږي او هغوئ حجاب او حشمت د شاته پاته کيدو(عدم تطور) رمز ګڼي همدارنګه د لوی تعداد ځوانانو تربيت د ګيرې، جهاد او شرعي حدودو څخه په کرکه کيږي؛ نو چې کله طبيعي عفت او فطرت لرې شي نو دوئ بيا هغې (شرعي حدود، حجاب، ګيرې...) ته د يوې فتنې، ياهم نوې منزوي پديدې په ځير ګوري.

دا د يو مکمل مسلمان نسل د ژوند د تګلارې کوچنی بيلګې(مثالونه) دي چې د جبري حکومت او دسراء د فتنې تر سيوري لاندې د نجد څخه پيل شوې د شيطان سليزې پيلامې(نتيجې) دي، نجد د نبي -صلی الله عليه وسلم- په ارشاداتو کې ذکر شوی کله چې هغه -صلی الله عليه وسلم- د ختيځ(مشرق) لوري ته اشاره کوله او ويل يې (خبردار چې فتنه له دې ځای څخه ده)، او دنجد نوم به يې يادولو، نجد نن ورځ د **حجاز** په نوم يادېږي، او د اسلامي تاريخ په اوږدو کې په مکې او مديني حکم(پادشاهي نده شوې، پلازمينه نده ګرځول شوی) مګر په دې مرحله کې، ځکه د سعودي د دريمې پادشاهی پلازمينه(عاصمة، پايتخت، مرکز) دی او همدا حکومت و چې(هغه د رحمت والا) عثماني خلافت يې له مينځه يوړ. که موږ د سعودي تاريخ ته نظر وکړو دا به ومومو(پيدا کړو) چې سعودي حکومت -۱۹۲۱م- کال چې له -۱۳۴۰هـ- سره برابريږي نجد په مکمله توګه تر ولکې(تسلط) لاندې راوست، نو (د شيطان د پيړی) پيل په -۱۹۲۱م- کې و چې -۱۰۰- کاله کيږي دوام لري.

نو آيا دا په دې معنی ده چې د دې(پيړئ) پای به په -۲۰۲۱م- يا - ۱۴۴۰هـ- کې وي؟

تر دې مهاله موږ د جبري حکم د پای کال(نيټه) په تقريبي توګه لاسته راوړ، هغه جبري حکم چې ځمکه يې(د شيطان په قرن کې) د ظلم او ځور او دټولو شيطاني لارو په بدايولو(راښکارولو) سره ډکه کړه؛ نو لکه څنګه چې د دې مرحلې دپيل دپاره يو معين ځای ټاکل شوی و، داسې به د نبوت پر

منهج ولاړ خلافت لپاره يوځای وي چې له هغې ځايه به څمکه له عدالت او انصاف څخه ډکه کړي لکه څنګه چې له ظلم او ځور څخه ډکه ده.

حاکم په خپل مستدرک کې له عبدالله بن مسعود –رضي الله عنه ـ څخه روايت کوي چې وايي: رسول الله -صلی الله عليه وسلم- موږ ته په داسې حال کې راغی چې خوښ و، او د خوشحالۍ اثر يې پر مخ څرګند و، نو چې موږ هره پوښتنه ترې کوله د هغې ځواب يې راکولو او يوکس به سوال نه و ختم کړی چې بل به پوښتنه وکړه(په متواتر ډول پوښتنې رواني وې) تر دې چې زموږ تر څنګ د بني هاشم د قبيلې د ځوانانو يوه ډله تيره شوه چې حسن او حسين -رضي الله عنهما- پکې ول، نو چې کله(رسول الله –صلی الله عليه وسلم-) هغوئ وليدل پام يې ورواوړېد، او له سترګو څخه يې اوښکې رواني شوې، نو موږ ورته وويل: ای د الله رسوله -صلی الله عليه وسلم- موږ ستا په مخ کې داسې څه ګورو چې زموږ ندي خوښ(خفه ښکارې)، نو هغه -صلی الله عليه وسلم- وفرمايل: **إنّا أهل البيت اختار الله لنا الآخرة على الدّنيا، وأنه سيلقى أهل بيتي من بعدي تطريدا و تشريدا في البلاد، حتى ترتفع الرايات سود من المشرق فيسألون الحق فلا يعطونه، ثم يسألون الحق فلا يعطونه، ثم يسألون الحق فلا يعطونه، فيقاتلون فينصرون، فمن ادركه منكم أو من أعقابكم فليأت إمام إهل بيتي ولو حبوا على الثلج، فإنها رايات هدى يدفعونها إلى رجل من أهل بيتي يواطئ اسمه اسمي و اسم أبيه اسم أبي، فيملك الأرض فيملؤها قسطا وعدلا كما ملئت جورا و ظلما".**

ترجمه: زما اهل بيت(کور والا، بچيان) ته الله -سبحانه و تعالی- آخرت پر دنيا غوره کړی او بيشکه چې زما اهل بيت به زما څخه وروسته(په ځمکه کې) د شړل کيدو او پاشل کيدو سره مخ شي، تر دې چې له مشرق څخه به تورې جنډې راپورته شي، دوئ به د حق(خلافت) غوښتنه وکړي نو وربه نکړل شي، بيا به يې غوښتنه وکړي نو وربه نکړل شي، بيا به يې غوښتنه وکړي نو وربه نکړل شي(درې ځل)، بيا به قتال(جګړه) وکړي نو(د الله له طرفه به) نصرت ورسره وشي(بريالي به شي)، نو چا چې له تاسو څخه او يا مو له اولادونو څخه دوئ وموندل(پيدا کړل) نو دوئ دې زما د اهل بيت امام ته راشي اګر که په واوره ښوييدلو سره(راتګ ته مجبورشي) ځکه دوئ به د هدايت جنډو والا وي چې خلافت به زما داهل بيت څخه يو سړي ته ورکوي، چې د هغې نوم به زما د نوم سره سمون خوري او د پلار نوم به يې زما د پلار نوم سره سمون خوري، نو په ځمکه به حاکم شي او عدالت او انصاف څخه به يې ډکه کړي لکه څنګه چې تر دې وړاندې له ظلم او ځور څخه ډکه وه.

نو هغه څوک چې ځمکه له ظلم او ځور وروسته له عدل او انصاف څخه ډکوي هغه مهدي –عليه السلام- د اهل بيت امام دی او د ختيځ څخه راغلې توري جنډې به د هغه سره بيعت وکړي.

آيا د هغې بيعت وخت ټاکل شوی؟ ډير ښه...

هغه څه چې يو عقلمند انسان پکې شک نکوي داده چې؛ ځمکه نن د ظلم او ځور څخه ډکه شوې او دشرق څخه د تورو جنډو ښکاره کيدل د نبوت پر منهج د خلافت غوښتنه کوي، نو کوم دي هغه خبرونه(آثار) چې د هغې بيعت(د مهدي) موده ټاکي؟

په صحيح مسلم کې د أم سلمة –رضي الله عنها- نقل دي چې رسول الله -صلى الله عليه وسلم- فرمايلي: **"يعوذ عائذ بالبيت فيبعث إليه بعث فإذا كانوا ببيداء من الأرض خسف بهم، فقلت: يارسول الله –صلى الله عليه وسلم- فكيف بمن كان كارها؟ قال: يخسف به معهم ولكنه يبعث يوم القيامة على نيته".**

ترجمه: يو پناه غوښتونکی به (دالله) کور ته پناه يوسي، نو هغې ته به لښکر ورواستول شي، نو چې کله دوئ په بيداء(د مديني خوا ته منطقه) کې وي په دوئ به خسف وشي، نو ما(أم سلمة) ورته وويل: ای د الله رسوله -صلى الله عليه وسلم- نو دهغه چا باره کې څه وايې چې په جبر سره راوستل شوي(په دې لښکر کې)؟ ويې ويل: خسف به پرې کيږي د هغوئ سره، خو د قيامت په ورځ به د خپل نيت پر بنسټ حشر کيږي.

د نعيم بن حماد کتاب الفتن -۲۲۶- صفحه کې راغلي: تبيع داسي وويل: حدثنا الوليد بن مسلم عن صدقة بن خالد عن عبدالرحمن بن حميد عن مجاهد عن تبيع قال: **"سيعوذ بمكة عائذ فيقتل، ثم يمكث الناس برهة من دهرهم، ثم يعوذ آخر، فإن أدركته فلا تغزونه فإنه جيش الخسف"** اسناده حسن

ترجمه: يو پناه غوښتونکی به مکې ته پناه يوسي او وبه وژل شي، بيا به خلک د خپل عمر يو برخه ژوند وکړي(يو څه زمانه به تيره شي)، بيا به بل پناه وړونکی پناه يوسي، که هغه دې وموند(پيدا کړ) نو ورسره جګړه مکوه ځکه دا(دهغه سره جګړه کونکی لښکر) به د خسف والا وي.[حسن اسناد]

د دې حديث څخه دا جوته(ښکاره) شوه چې کوم لښکر د مهدي په لټه کې دي دا به د اول عائذ څخه وروسته راښکاره کيږي، دا په دې معنی چې دوهم عائذ به مهدي وي، او په دې هم پوه شو چې د دواړو عائذينو تر مينځ به د خلکو دعمر يوه حصه وي، نو هرچې اول عائذ دی هغه مو وپيژندلو او هغه (محمد

بن عبدالله القحطاني) د (جهيمان العتيبي) زوم دی، او د شيطان په قرن كې يې مكې ته پناه يوړه په كال -١٤٠٠هـ- كې.

په دې معنی چې د ربنتينی مهدي ظهور به د دې پيښې څخه يوه (برهه) وروسته كيږي، نو ستا په نظر سره دا يوه برهه به څومره موده وي؟

د برهې لفظ داسې برېښي لكه يوه گړی(يوه شيبه) او د تهامي(د عربي جزيرې د سمندرغاړې علاقې خلک) په نزد د سهار له خوا يو ساعت ته ويل كيږي، او داسې هم گڼل كيږي چې يوه اوږده موده دې چې انسان يې تيروي(ټول عمر يې يا نيم عمر يې)، نو يوه شيبه يا يوه گړۍ څنگه كولی شي دومره اوږده موده واوسيږي؟ او آيا داسې ساعت شته چې د انسان د ژوند په برابر دې وي؟

كله چې موږ د خپل ورځني ساعتونو ته وگورو نو يوه ورځ مو -٢٤- ساعته ده( دنن لمر ختلو څخه تر سبا همدا وخت پورې)، د دې مجموعه د انسان دپاره يوه شپه ورځ برابروي.

مگر د الله -سبحانه و تعالی- په نزد يوه ورځ زموږ د -١٠٠٠- كلونو سره برابره ده، نو په دې حساب يو ساعت زموږ د پاره څومره موده كيږي؟ ځواب...

٢٤/١٠٠٠ = ٤١,٦٦ چې ٤١ كاله او اته مياشتې كيږي.

نو آيا كيدای شي چې دا يوه برهة چې يو ساعت برېښي دومره اندازې ته دې ورسيږي؟

غالب گمان دا دی چې د يوه برهة د الله -سبحانه و تعالی- په نزد يو ساعت دی چې د بنده دپاره له -٤١- كاله او اته مياشتو سره برابريږي، او دا وخت د اول عائذ څخه تير شوی، نو كه چيرته دا عدد دقيق وي د مهدي –عليه السلام- بيعت به د -١٤٤١- كال رمضان سره وي.

آيا دا معقوله ده چې دا دې د شيطان د قرن پای وي؟

د شيطان د قرن پيل و: دوشنبه، لسم د محرم، -١٣٤٠هـ- كال؛ په دې ورځ د نجد(نننی رياض) په ټولو سيمو(منطقو) ولكه وشوه(سيطره حاصله شوه) چې د نجد څخه د شيطان د پيرۍ د پيل ټكی و.

او په ميلادي تقويم سره د قرن الشيطان پيل په: كال -١٩٢١م- يوولسم د سپټمبر كې و او چې سل كاله ورسره جمع كړو نو پيرۍ يې په -٢٠٢١م- كال، يولسم د سپټمبر پوره كيږي، او كه دا د هجري سره تطبيق كړو نو حاصل يې -٤/٢/١٤٤٣- راوځي.

د دې ځای څخه موږ ته د مهدي د بیعت اعلی او ادنی حد د شیطان د پیرۍ په ختمېدو سره به هجري او میلادي کلونو کې معلوم شو او نتیجه یې داده [۱۰/۱/۱۴۴۱ ـ ۴/۲/۱۴۴۳] .

او د برهي والا حدیث دیته اشاره کوي چې بیعت به -۱۴۴۱هـ- کال په رمضان کې کیږي، نو آیا دا صرف یو تصادف دی؟![13] که له بل اړخه وګورو نو د امت د عمر په حساب معلومولو سره دې پایلې ته ورسېدلو چې -۴۷- کاله عمر یې پاته دی.

له ابو هريرة –رضي الله عنه- څخه روایت دی چې رسول الله -صلی الله علیه وسلم- وفرمایل:**"الأنبياء إخوة لعلّات أمهاتهم شتّى، ودينهم واحد، وإني أول الناس بعيسى بن مريم –عليهما السلام- لأنه لم يكن بيني و بينه نبيّ، وإنه نازلٌ، فإذا رأيتموه فأعرفوه: رجل مربوع إلى الحمرة والبياض، عليه ثوبان ممصران، كأن راسه يقطر، وإن يصبه بللٌ، فيدق الصليب، و يقتل الخنزير، ويضع الجزية، ويدعوالناس إلى الإسلام، فيهلك الله في زمانه المِلل كلها، إلا الإسلام، و يهلك الله في زمانه المسيح الدجال، ثم تقع الأمنة على الأرض حتى ترتع الأسود مع الإبل، والنمار مع البقر، والذئاب مع الغنم، ويلعب الصبيان بالحيات، لا تضرّهم، فيمكث أربعين سنة، ثم يتوفى، ويصلي عليه المسلمون".**

ترجمه: پیغمبران علاتي(د یو پلار او بیلو میندو څخه) ورونه دي، میندې یې بیلې(جلا) دي، او دین یې یو دی، او زه تر ټولو(انبیاو) په عیسی بن مریم –علیهما السلام- باندې اولویت لرم(نږدې یم)، ځکه چې زما او د هغې تر مینځ هیڅ نبي نه و، هغه رانازلیدونکی دی، نو چې کله مو ولید ویی پیژنئ، چهاراندام(مناسب اندام والا) سور سپین سړی، دوه سور رنګ ته ورته(مایله) جامې به یې پر ځان وي، داسې ښکاري لکه له ویښتو یې چې اوبه څاڅي، د سفر(دستړیا، ګرد) اثر به پرې نوي، صلیب به مات کړي، خنځیر به قتل کړي، په کفارو به جزیه کیدي، خلک به اسلام ته دعوت کوي، الله -سبحانه و تعالی- به ټول ملتونه(دینونه) هلاک کړي سوا د اسلام څخه، او الله -سبحانه و تعالی- به د هغه په وخت کې دجال هلاک کړي، بیا به په ځمکه کې امن خپور شي، تردې چې زمري او اوښان به یوځای څریږي، پړانګ او غوایی به له یوبل سره څریږي، او لیوه له رمې سره، ماشومان به د مارانو سره لوبې کوي او

---

۱۲- [د لیکونکي د ګمان مطابق البته داسي آثار شته چې د بیعت موده ۱۰ د محرم ښایی، خو رمضان به د بیعت د تیاري لپاره یوه پیلامه وي، ځکه هلته به مهم واقعات کیږي لکه د هدې او صیحي احادیث چې ورته اشاره کوي]

ضرر به ورته نه رسوي، (عيسى –عليه السلام-) به -۴۰- کال پاته کيږي، بيا به وفات شي، او مسلمانان به پرې د جنازې لمونځ ادا کړي.[14]

پورته حديث پر دې دلالت کوي چې عيسى –عليه السلام- به د ځمکې په سر -۴۰- کاله پاته کيږي.

او رسول الله -صلى الله عليه وسلم- فرمايلي: **أبشركم بالمهدي يبعث في أمتي على اختلاف من الناس والزلازل، فيملأ الأرض قسطا وعدلا كما ملئت جورا او ظلما، يرضى عنه ساكن السماء وساكن الأرض، يقسم المال صحاحاً، فقال له رجل: ما صحاحاً؟ قال: بالسوية بين الناس، قال: ويملأ قلوب أمة محمد –صلى الله عليه وسلم- غنا و يسعهم عدله، حتى يأمر منادياً فينادي فيقول: من له في المال حاجة؟ فما يقوم من الناس إلا رجل واحد، فيقول: أنا. فيقول: ائت الخازن. فقيل له: أن المهدي يأمرك أن تعطيني مالاً، فيقول له: احث حتى إذا جعله في حجره وأبرزه ندم، فيقول: كنت أجشع امة محمد نفساً أو عجز عني ماوسعهم. قال: فيرده فلا يقبل منه. فيقال له: إنا لا نأخذ شيئاً أعطيناه، فيكون كذلك سبع سنين، أو ثمانِ سنين، أو تسع سنين ثم لا خير في العيش بعده أو قال: لا خير في الحياة بعده".**

ترجمه: تاسو ته د مهدي(د راتګ) زيرى درکوم، زما په امت ګمارل کيږي (په داسې حال کې چې) اختلافات او زلزلې به وي، نو ځمکه به له عدل او انصاف څخه ډکه کړي لکه څنګه چې له ظلم او ځور څخه ډکه وه، د هغې څخه به دځمکې او آسمان اوسيدونکي راضي وي، مال به په صحاح توګه ويشي، چا وپوښتل: چې له(صحاح) څخه څه مراد دى؟ ويى ويل: په برابرئ سره په خلکو کې (ويشل)، ويې ويل: او الله -سبحانه و تعالى- به د محمد -صلى الله عليه وسلم- د امتيانو زړونه د غنا څخه ډک کړي(زړونه به يې ماړه کړي)، او د هغه(مهدي) عدل به په دوئ پراخي راولي تر دې چې يو آواز کوونکي ته به امر وکړي، نو هغه به آواز وکړي: څوک مال ته ضرورت لري؟ نو د خلکو څخه به هيڅ څوک و نه دريږي مګر يو سړى! او وبه وايي: زه(مال ته ضرورت لرم)، نو(آوازکوونکى) به ووايي: ورشه خزانه دار ته(د خزانې ساتونکي ته)، نو دې خزانه دار ته به وويلى شي: مهدي تاته امر کړى چې ماته مال راکړې، نو (خزانه دار) به ورته ووايي: واخله، تر دې چې خپله غيږ به ترې ډکه کړي او پښيمانه به شي، نو وبه وايى(دا مال اخيستونکى): زه د محمد -صلى الله عليه وسلم- په امت کې تر ټولو حريص يم! او د دوئ د پراخئ څخه زه بې برخې شوى يم(عاجزه شوى يم)، (رسول الله -صلى الله عليه وسلم- د حديث په ادامه کې) وفرمايل: مال به بيرته (خزانې ته) وروګرځوي، نو ورڅخه اخيستل کيږي

---

۱۳- [بخاري -۳۴۴۳-، ابوداود -۴۳۲۴-، احمد -۹۲۷۰- او لفظ د امام احمد د مسند دى]

به نه، او ورته وبه ویلی شي: موږ ورکړی شی بیرته نه اخلو، نو همدا شان(حالات او فراخي) به وي -۷- کاله یا -۸- کاله یاهم -۹- کاله، بیا د هغه څخه وروسته ژوند کې هیڅ خیر نشته.[15]

نو دا حدیث د مهدي د پاته کیدو په موده دلالت کوي چې -۷،۸، یا ۹- کاله به وي.

لکه څنګه چې پوه شو د عیسی –علیه السلام- د پاته کیدو موده -۴۰- کاله ده او دا چې د مهدي د پاته کیدو کمه موده -۷- کاله ده نو مجموعه یې -۴۷- کاله شو، او دا همهغه د امت پاته عمر دی [۱۵۰۰ – ۱۴۵۳ = ۴۷] یعني د مهدي ظهور ته ډیر وخت ندی پاته، نو آیا دا ټول یو تصادف دی؟!

آیا دا یو تصادف دی چې په همدې وخت کې یو تحریک په نوم د (انصار المهدي) راښکاره کیږي؟ د سپینو جامو والا او تورو خولیو والا چې په هغې باندې د لوی امام (محمد–صلی الله علیه وسلم-) مهر دی، او د اهل بیت طرف ته دعوت ورکوي د مهدي –علیه السلام- د بیعت دپاره، لکه څنګه چې په آثارو کې یې ذکر شوی.

## إن في ذلك لآية لقوم يتفكرون

۱۴- [مسند احمد -۳جلد،۳۷صفحه،۱۱۳۴۴ نمبرحدیث- حسن سند سره د ابو سعید په روایت]